لومړی
ټوک

# د ادب فلسفه

زړه پرې مه بایله خراب به شي اسحاقه
زندگي هم لاس پر لاس درسره نځي

شـــاعـــر
صالح محمد اسحاق

بسم الله الرحمن الرحیم دا کتاب که څه هم دشاعر صالح محمد اسحاق صیب دشعرونو کتاب ده خو بیاهم نوم د ادب فلسفه ورته کېښودل شوې ځکه چي دلته دکوم فلسیوفي یو لوی سوال ده صالح اسحاق له طرفه جواب شوې ده بل لامل یې دادی چي اسحاق صیب چي دی دفکر ذهنیت او نوښتونو سره یې ډیره مینه او محبت دی ددې کتاب لیکونکې زه حافظ محمد طارق خپله یم خو شعرونه او نور نوښتونه یې په صالح محمد اسحاق پوري اړه لري لکه څرنګه چي هر انسان کومه ځانګړې هیله له ځان سره پټه زړه کي ساتي همدا رنګه زمونږ دګران ملګري بلکي دورور غوندي ګران شخص صالح محمد اسحاق هم له ځانه سره کوم ځانګړې ارمان درلود چي هغه دلوړ ذهنیت فکر ادبي اهدافو سره تړاو لري له دنه که چیري پوښتنه وکړي چي ایا مینه مو کړي وبه وایي هو خو له خپل ځانه سره که ورته ووایې کوم څه دي خوښېږي نو وایې هو ژوند مي خوښ ده خو له بده مرغه حقیقت ښکاره ده چي دی له ژونده خوند نه اخلي ځکه اول خو دی ډیر ضعیف ده داقتصاد له طرفه بل داسي وطن کي ده چي بیخي دژوند هیڅ خوند په کي نشته  داسحاق صیب عمر تقریب 22کاله ده او اوسیږي بادغیس ولایت کي همدایې مسکن وو همدایې مسکن ده دژوند ترخې او خوږې خاطرې یې ټولي هم دلته تیري شوي والسلام دفلسیوفانو له خوا پر اسحاق صیب باندي ځانګړې سوال

ازادۍ او تقدیر ایا انسان خپل ژوند په بشپړ ډول کنټرولولی شي که هر څه مخکې ټاکل شوي دي د مسئلې تشریح انسان هره ورځ انتخابونه کوي زه نن درس وایم یا نه وایم زه د بل سره مرسته کوم یا نه کوم پوښتنه دا ده آیا دا انتخابونه واقعاً زما خپله ازادي ده که د نړۍ ټول قوانین علتونه او تقدیر یې مخکې ټاکلي ده که هر څه مخکې ټاکل شوي وي انسان یوازې یوماشین دی که انسان خپل انتخاب لري هغه مسئول دی او که د خپلو عملونو پایلې په بشپړ ډول تجربه کوي وایي هر څه علت لري  که  نړۍ د قوانینو له مخې روانه ده هر عمل فکر  او پیښه د مخکېنیو علتونو پایله ده د دې په اساس انسان حقیقي ازادي نه لري هغه یوازې د علتونو لړۍ تعقیبوي (مثال )که یو کس غوسه شي او د هغه ژوندی چاپیریال وزنې او تجربوي پایله ده او د هغه خپل انتخاب د ازادۍ لوری دی  ځینې برخې وایي انسان د خپل انتخاب وړتیا لري او کولی شي د ښه یا بد لارې انتخاب وکړي لکه څنګه چي الله ﷻ په خپل کتاب کي فرمایلي (فَمَنْ شَآءَ فَلْيُؤْمِن وَمَنْ شآء فَلْيَكْفُرْ) څوک خوښه لري چي ایمان راوړي او څوک خوښه لري چي کافر شي

صالح محمد اسحاق

د اسحاق جواب

زه خپله کوم لوی عالم نه یم چې ددی خبرو فتوا یاهم حقیقي جواب درکړم خو څومره چې زما علم پرې رسي ازادي شرط ده چې اخلاق او ثواب معنا پیدا کړي مثال که موږ انتخاب نه کړو موږ ته ثواب یا سزا بې‌معنا کیږي نو لازمي ده چې انسان حقیقي اختیار ولري منځنی لاره سازګاري انسان او نړی دواړه ټاکلي دي خو موږ لا هم د انتخاب تجربه لرو یعنې زموږ کړنې د علتونو تابع دي خو موږ دا کړنې د خپل شعور له لارې ترسره کوو مثال زه ده ډوډی انتخاب کوم زه د انتخاب وړتیا لرم خو زما انتخاب د خوراک موجودیت شوق او بدن اړتیا پورې تړلی دی د اسلامي لید له مخې دا مسئله د قضا او قدرت او د انسان ازادی ترمنځ ده الله جل جلاله د ټولو شیانو علم لري او هر څه یې مخکې ټاکلي دي خو انسان ته اختیار ورکړل شوی چې خپله عمل انتخاب کړي یعنې انسان مسئول دی خو په لویه کچه د هستی نظم د خدای علم او قدرت سره تړلی دی مثال که یو څوک مرسته وکړي یا ونه کړي ثواب یا سزا لري خو د هر عمل وخت ځای او توانایي د خدای په علم کې ټاکل شوی دی فلسفي پایله د دې بحث ستونزه د اخلاق مسؤلیت او عدالت سره تړاو لري که انسان ازاد نه وي د سزا ثواب او انصاف معنا نه لري که انسان بشپړ ازاد وي د نړی نظم او علتونه بې‌معنا ښکاري حل لاره په منځنی لاره کې مومي انسان محدود ازادي لري خو نړی د علتونو او قدرت له مخې روانه ده لنډه کیلي دروند نظر تقدیرهر څه مخکې ټاکل شوي انسان محدود ده یا زاد یا انسان خپل انتخاب لري مسئول ده سازګار یا انسان محدود ازادي لري نړی هم د علتونو له مخې روانه ده اسلامي فلسفه انسان مسئول دی خو د خدای علم او قدرت ټول څه ټاکلي دي همدومره زما جواب

صالح محمد اسحاق

شروع کوم دلوی ذات په نامه چې هغه مالک زما ده ناچزه وجود
دی او زما دعقل او فکر څښتن ده کوم چې یوه زره متحرک نده
بیله دهغه دخوښې او په بار بار شکر ادا کوم دپاک رب لایزال
ﷻ چې ما کم همته کم جرئته ته یې دومره لویه تحفه ور کړی
چې هغه فکر ذهن ژبه ده او دومره لویه تحفه یې راکړې چې زه
وکولای شم دده په ژبه دی وستایم اوس به راشو دشعر خلاصه
جدول چې شعر په کوم حالت کې شعر ده په کوم لحاذ شعر
باید شعر یاد شي د شعر بنستیز جوړښت شعر درې ستنې لري
موسیقي وزن د شعر اوازیزه بڼه (بحر ارکان هجاګانې)دمعنا فکر
د شعر مینځپانګه (مقصد پیغام) صنعت/ښکلا د شعر ښکلا (قافیه
ردیف تشبیه استعاره کنایه) شعر د هجاګانو پر بنسټ جوړېږي
(لکه ږغونه) هجا دوه ډوله ده لنډه هجا لکه (په که مه) اوږده
هجا لکه (جان لارسر)هر بحر د لنډو او اوږدو هجاوو ځانګړی
ترکیب لري بېلګه زه لا بندي یم، لا غریب یم، لا فنا سره که یې هجا
حساب کړو قافیه د مصرعو په اخر کې راتلونکی یو شان یا نژدې
غږیز جوړښت دی بېلګه ښکلا په ما دعا په ما دلته قافیه (ـه ما)
ده قاعده قافیه باید په ټولو بیتونو کې ثابته پاتې شي ردیف هغه
تکرارېدونکی کلیمه یا ترکیب دی چې د قافیې وروسته په هر بیت
کې راځي بیلګه

**صالح محمد اسحاق**

ماته په نغمو کي استغفار راوړه
زړه قربان سکون واخله قرار راوړه
دلته راوړه په ردیف کي حساب‌ل کیږي او استغفار او قرار بیا قافیه بلل کیږي غزل معمولا د عشق درد عرفان خبرې لري
هر بیت ځانله معنا لري قافیه + ردیف لازمي وي نظم د یوې موضوع پر تسلسل ولاړ وي (سیاسي ټولنیز تعلیمي) قافیه حتمي نه ده نعت د رسول الله ﷺ په ستاینه کې لیکل کېږي باید سپیڅلی ادبناک او له درنښت ډک وي مناجات د الله تعالی سره دعا راز او نیاز ویدعاطفه او عاجزي پکې ډېره وي مرثیه د کوم شهید یا دردېدلي کس د یاد په غم لیکل کېږي. عشقي شعر د ښکلا مینې فراق او وصل موضوع لري عرفاني صوفیانه شعر د روح د الله د عشق د دنیا د فاني والي په اړه وي ډېر سمبولیک او استعاري وي  د شعر ښکلا (صنعتونه) تشبیه د "لکه" په وسیله ورته کول (ته لکه سپوږمۍ ښکلې یې) استعاره پټ تشبیه (د زمانې لمر پټ شو) کنایه په غیر مستقیم ډول اشاره (د کعبې لور ته مخ کړه د الله لور ته مخ کړه) تضاد د مخالفو ټکو کارول (ژوند او مرګ)تکرار د ټکو یا ترکیبونو بیا بیا راوړل د اغېز لپاره
د قافیې تحلیل قافیه څومره قوي ضعیفه ده غږیز ښکلا یې څنګه ده د ردیف تحلیل آیا ردیف شعر ته رواني ورکوي معنا پیاوړې کوي که نه  د عرفانیصوفیانه تحلیل سمبولونه څه ته اشاره کوي ایا د قرآني یا حدیثي معناوو سره تړاو لري
د شاعر کار موزون  د فکر سره وزن برابرول تخیل نوې خبرې جوړول زړه‌سواندي د خلکو په درد لیکل ژبنی مهارت د کلمو ښکلی انتخاب

**صالح محمد اسحاق**

## ۱ حمد شریف

بې پیله، بې پایه، بې حد، بې مثاله
بې عجزه، بې ظلمه، صادق، ذوالجلاله

ته لمر یې، ته سیوری، باران یې، رڼا یې
ته نور د هر سترگو، د هر زړگي حاله

زه څه یم چې ستایم، خو بیا په تا ویاړم
ستا نوم ته تسلیم شي هر غر، شر، ضلاله

نه سترې، ویده یې، محتاج د چا نه یې
ته اوسې له هر رنگ، له هر قید، زواله

نه ځای دې محدود کا، نه وخت پرې اغېزه
اسحاق دې جوړ کړی له جز د جماله

صالح محمد اسحاق

## ۲غزل

ځان کي مصروف وي دبل چا عيب ته بېکاره نوي
لچانه ورکه چي دخپل گرېوان هنداره نوي

دومره حسد دی هر کامياب يوازي خپل جشن کړي
وريږم مړه به شو جنت ته به هيڅ لاره نوي

اعتبار اوس له درده خپله په ځان کړې تکيه
دلته خرڅ شوی دی چي ورور تر ورور بېداره نوي

زيې منمه چي کامياب خلک حتمن زوريږي
ستا څه به نيکه مشوره زما لپاره نوي

اسحاقه خپله په ځان اوس باور کولای نشم
لاس کي مي کانی نوي ژبه مي زيان کاره نوي

صالح محمد اسحاق

## ۳ غزل

د ایمان وړانګي مي تیاره کي دخمار لوېدلي
څومره درنې اړیکي څه پر نري تار لوېدلي

انصافه وایه علم سم رارسېدلی کنه
دعلم توري مي کډ وډ ناسم تکرار لوېدلي

سترګي يې ولي دي په ناړو لمدې کړې اشنا
انسانان ټوله ولي نن له اعتبار لوېدلي

په یاړه زړه صبر کولای نشم نه رسیږي
دزړه دردونه بیا تر لوی بام دقرار لوېدلي

د آیینی سړی اسحاقه څنګه کړمه راضي
پر ما دکم ارمان آهونه د آزار لوېدلي

**صالح محمد اسحاق**

## ٤غزل

له غربته ګیله مکړه  مسافره
ناچاري ده چي خپل آس درسره نه ځي
دنفرت زهر چي زړونو دي حِس کړي
نو دمیني پر احساس درسره نه ځي
ښه دي نه ځیږي او بد در پسي وایي
یو سړی هم په اخلاص درسره نه ځي
له یوه طرف اړیکه نه ټینګیږي
بې پاسخه نو تماس در سره نه ځي
له خود چارو او بد بینو څه ځان ساته
سیم و زر پسي الماس درسره نه ځي
زړه پرې مه بایله خراب شوليږ اسحاقه!
زندګۍ هم لاس پر لاس درسره نه ځي

صالح محمد اسحاق

## ۵ غزل

هر څومره که ووایم الیف یم او تسلیم یمه
بیاهم سیده نه یمه اوبیا هم هغه میم یمه

څومره به خپه شې رانه څومره درته مات یم
دروند تاله کې راغلم چې درزم په تاله نیم یمه

مازې په عادت باندې جانانه عبادت دی
نه پوښم تقوا لرم که نه خواسته مجرمِ یمه

څونه ادبیات په هدف نه کارول کېږي
څه که اشنا وایم ادب پال یمه تعلیم یمه

زه لکه قلم اسحاقه ځان مې پېژندلی
یو طرف رسام یمه او بل طرف ترسیم یمه

صالح محمد اسحاق

# ٦ نعت شریف

یو چاته له خپل سره تېرېدل کېږي لما
له هر زور او ستم وروسته بنبل کېږي لما

صفت یې دومره خوږ دی زړه پرې هیڅ نه مړېده
په لوی لوی اشارو کې یې ویل کېږي لما

دمیني پر اغزن دېوال په دوه لاسونو ځم
هم سترګي مې خوږېږي هم کتل کېږي لما

چې ته راسره مل نشې په لاره دسیالي
زه دومره نامې نه یمه بایلل کېږي لما

د زړه تنګون به څه پرېږدي ارامه زندګي
اسحاقه له یادونو سره تلل کېږي لما

صالح محمد اسحاق

## ۷ غزل

بیمار خو یم د تبیبانو تر نظر نه یم
لا خو د وصل و درملو ته بستر نه یم

که کړې پوښتنه چې له یار څخه څه تمه لرې
وایم چې تږې یمه تږې، نور خبر نه یم

ته به وا دا ژوند تېره ونه به ما مړ نکړې
ارمان مې هم تر ګرېوانه نیسي چې سر نه یم

ته چې زما له عشقه سوځې زه دې هم سوځم
قربان دې شمه ښکولیه، تاته خو بهتر نه یم

که ته زما د زړهٔ د سوز د غږ تعبیر ته ګورې
زه هغه سوز یم چې زبان یمه، اثر نه یم

ته خو جانان یې،ته مې ځان یې زه اسحاق ستا یم
زه څوک یم، څه یم؟ که یم، یم خو معتبر نه یم

صالح محمد اسحاق

# ۸ داللہ مینه

نه مي شته دزړه سکون نه دغم کافي دوا
نه دميني څه بيان نه له درده څه جدا

زه بې رنګه بې نوا له نوره دعوه لرم
زه ده وصل مست يمه نه له اجره تمنا

نه توبې کي شک پاتې نه ګنا کي څه هوس
ژبه وايې لا اله زړه مي وايې هو الا

زه ده درد له درده جوړ نه قرار ته څه نفس
نه له ژونده تسلي نه له مرګه څه فنا

زه دخاموشې اواز اسحاقه نغمه نغمه
نه له ذوقه څه هنر نه له عشقه څه حيا

صالح محمد اسحاق

## ۹ غزل

دنغمو ښاته يو خاموش غوندي توفان وينم
څمه خوښي راکړي، اختر کي مي جانان وينم

ته راته خانده، زړه دی څه وکړم، تابع به يې شم
کنه قسم چي په خندا کي دي تاوان وينم

پوهيږم مابه د بېلتون کوهي ته وغورځوي
ستا په خاموش کتلو کي بيان وينم

ته راته گوره، زما ګټه ستا تاوان نشته
هسي هم ستا د عشق هنداره کي يو ځان وينم

زه چي دخيال دښګو ښار ته مسافر راغلم
په ځينو سترګو کي اسحاقه بد ګمان وينم

صالح محمد اسحاق

# ۱۰ غزل

دنظر په راز کې ورک یم قرار نشته
په هستۍ کې بل مقبول کردګار نشته

ما دځان جامه ترې وبنبله سره شوه
اوس د ,زه, تصور پاته تکرار نشته

چې رقیب مو خبر نشي له اړیکې
په دوا ده درد یې هیڅ اعتبار نشته

ماته زه هم ورک شو هغه هم پټ شوی
په دواړو کې اوس جانانه سرشار نشته

ماله ځانه انکار کړی ته یقین یې
تفاوت کې مې دعقل اختیار نشته

ما په ځان پسې بې خوده کړه محبوبه
اجازه ده په اسحاق کې ازار نشته

صالح محمد اسحاق

## ۱۱ مناجات

زه لا بندي يم لا غريب يم لا فنا سره
ته لا زما يې لا رحيم يې لا بقا سره

که هرڅه نشته ستا حضور دی دا کفاف ماته
زه لا محتاج يم لا سوالي يم لا دعا سره

زه د سکوت په ژبه ژاړم ډېر نږدې وي تاته
زه لا پټ نه يم لا غرېږم لا نوا سره

زما يقين ته دګنا بوی هم رسيږي نو
زه دومره ظرف يم دومره نه يم لا خطا سره

ستا دکرم نه محروم مشه زما ناولی زړه
ته خپل اسحاق درولمه ځان ته له هُدا سره

صالح محمد اسحاق

## ۱۲ غزل

آینې زړونه چې څوک ولي په درنو خبرو
وروسته ادب کې پاته شوي دپښتو خبرو

یوخت دمیني لیک له یو ښاره تر بل ښاره تلی
اوس باور وشه که باور کیږي په درو خبرو

چاته دفکر تصور په مینځ کې پرق ورکوي
زه تصور دي په تصویر کړم دزړو خبرو

چې دي له تګ وړاندي وماته څو جملې پرېښودې
کمزوری ژوند کیږي لا اوس هم په هغو خبرو

څوک چې په نیک اخلاق پوره وي نو خوږې به وایې
اسحاقه څنګه خوله خوږه شي په ترخو خبرو

صالح محمد اسحاق

## ۱۳ غزل

قیام درځنې غواړي اوهمت درځنې غواړي
ساتنه د هېواد سپیڅلی نیت درځنې غواړي

لالیه پام یې ساته چې پردي چیرته رانشي
کور کلی ښه بې دریغه حفاظت درځنې غواړي

تګلاره دې سپیڅلې, حوصلې به تاندې ساتې
د غره غوندې محکم استقامت درځنې غواړي

د خپل امیر فرمان ته غاړه کیږده مجاهده
اعزاز دی پکې نغښتی اطاعت درځنې غواړي

راپاڅه وخت د کار دی لاس پکارشه که د کار یې
اسحاقه! مېې بډ وهه خدمت درځنې غواړي

صالح محمد اسحاق

## ۱٤ حمد شریف

نه لچا تمه ساتي نه دچا پروا لري
یو څوک دی واک ده دي دنیا او مافیها لري

مثل یې حق دی خو تعریف کي به یې څه نه وایو
شان یې تر عقل لوړ دی فکر یې ګنا لري

کله ولمر ستوري سپوږمۍ ته داسي ځیر پاتي شم
وایم ده دي تخلیق خالق څومره ښکلا لري

چي یې تخلیق په وړانګو سترګي تیتوي وځانته
خالق به څو چنده ښکلا له دي بالا لري

ولي به وخت برباد کړي ولي به بې قدره کړي ځان
څوک چي ایمان په لا اله الا الله لري

اسحاق که هر څومره قوي اوکه درخپل شي تاته
زړه کي ویریږي لتا خوله کي ستا ثنا لري

صالح محمد اسحاق

## ۱۵ نعت شریف

ارمان وړمه په زړه کې تر لحده محمده
سرداره مبارکه وه احمده محمده

زه ستا په مینه غرق یمه اُمید لرم وتاته
باور په تا لرمه صد فیصده محمده

که ته چیرته اُمید وکړې وماته دستایلو
نو تیر به شم دژوند له هر مقصده محمده

دلاسه به مې ونیسې هغه ته به مې ستون کړې
یوته مې رسوای شې تر احده محمده

نو درست جهان به وژاړې اواز که چیرته واورې
درناري که له زړه کړم محمده محمده

که چیرته له اسحاقه سره مل شي پس له مرګه
مننه به دي وکړم له مدده محمده

صالح محمد اسحاق

# ١٦ غزل

عزم مي ټينګ دی سټاپه باب هره خبره ټينګه
د زړه اړيکه لرم تا سره دلبره ټينګه

چې مي جانان ته ده ستم په نظر چاکتلي
څپيړه وخوري هغه مخ ښه برابره ټينګه

په حال کي ډېر خدمت کومه له ماضي وطن ته
اوس مي تڼاکه ده پر لاس لکه ډبره ټينګه

چې دوه مخي وکي پر دوه سترخوانه وخوري خواړه
مرانده به يې نشي داېمان زما له نظره ټينګه

خدايه په سوال د ده او دی، ايمان کامله غواړم
کړه پر ايمان باندي الماس او ملغلره ټينګه

لادي دغرونو دجنون خاوري پر مخ پرتې دي
ښکاري اسحاقه اراده دي وه له سره ټينګه

صالح محمد اسحاق

# ۱۷ غزل

له ډیرو اوښکو وروسته بیا خندا را څخه وشي
شرمیږم, نو د خپل ځانه حیا, را څخه وشي

چي ته به پرې خپه شې مابه وبښې کنه بیا
ده زړه یوه ناوړه ده که دا راڅخه وشي

په بد لعنت لړلی یم جنت به رانه خوار شي
خو بیاهم ستا دراکړي تمنا راڅخه وشي

نه شکر دي ادا شي نه ثنا, نه دي تعریف کړم
چي فکر کي دي راوړم سرف واه وا را څخه وشي

نو زه به لېونی یم اویا ځان مي دی دغاړي
چي ستا حسن ته هم دزړه درزا را څخه وشي

ژړاکي اوښکي نشته او توبه کي هم خطا شم
اسحاقه له ګنا وروسته ګنا راڅخه وشي

صالح محمد اسحاق

## ۱۸ مناجات

د آيني په شان ښايست دي له غباره پټ شي
يار دي رقيب نه پټ شي يار ولي له ياره پټ شي

ستا درحمت باران زما په گناهو را وكا
چي مي دزړه دنياكي وورې له بهاره پټ شي

كه تكليفونه ستا له خوا وي بياهم تاته درشم
داسي څوک نشته چي ستا قهر نه باداره پټ شي

څه چي كړي هغه رېبي دا دپښتو متل دی
نه به عذاب له خدايه ځ هېر نه گنهكاره پټ شي

مايې د دواړو غېږ كي ژوند كړی ترې نه پټيږم
لمر له ماښامه پټ شي ستوري له سهاره پټ شي

هرو مرو به شي غوټي يابه گلان شي ياره
كه دي اسحاقه ارمانونه په دې لاره پټ شي

صالح محمد اسحاق

# ۱۹ غزل

ما بې وسي له کاره باسي او چاره نلرم
ولې به ستا مرستي ته تنده تلوسه نلرم

چې پر تا بلي کړي لمبې درد يې پر ما تيرېږي
لاس مي ور خلاس شه زړه مي چوي حوصله نلرم

که مي ساتنه لتا ونه کړه او دره نغلم
بيا تش کالبوت يمه زړه نلرم جزبه نلرم

ستا پر زخمونو به د خپل ځان غوښې ونښلوم
له سره تېر يمه د هيڅ بلا خطره نلرم

زه که صادقه يم د نېکو او د ښو په وړاندي
د ظالم مخته تريخ سړی يمه سينه نلرم

يا دي غازي شمه اسحاقه يادي خاوري شمه
له دېنه پرته بله کمه فېصله نلرم

صالح محمد اسحاق

## ۲۰ پلاره

زما په غم شریکه زما دهرې سختې یاره
ماته په تیاروکې ځلاند لمر یې زما پلاره
سم درته کتلای نشم زه له دغه ډاره
خدای دې ما ګیر نه کړې ستا له آه او له ازاره

زه دې جار له مینې ستا دمینې لایق نه یم
ګـوره لا تر اوسه چې پوه نه یم لا ویده یم
زماپه سر سایه یې بیله تابه نو زه څه یم
زما دنیمګړ تیاوو راښودونکی یې هنداره

زماپه ښه روزنه دې تیاکې کړه لاسونه
ماته دې ښکاره کړه ده دنیا ټول نعمتونه
ستا دقدم لاندې راته ښکارې جنتونه
تا له لاس نیولې وم چې ګرځېدم په لاره

زه چې وم ماشوم او زما سترګې وې تړلې
ماته دې پاک خدای ج او رسول ص دواړه پیږندلې
تا د دین احکام په سل تکراره راښودلې
زر ځله قربان دې شې اسحاق له دی تکراره

صالح محمد اسحاق

## ۲۱ شهید ارمان

زه درنه هېر نشم ملګرو چي پښتو ونه خوري
ګټلی ماده زما ویني په پردو ونه خوري

زما یتیم درته در پاته دی ښه خیال یې ساتې
ترڅو چي مور نه وي دی تاسې تر هغو ونه خوري

عزت د دین قرآن اسلام دکلیمې به کوې
زما عزت او زما هیلي پر پیسو ونه خوري

دکونډو بورو دساتلو مسؤلیت هم لرې
مال او دولت ده آمیرانو په جیبو ونه خوري

ستا شفاعت به زه زړګیه ضروري کومه
اسحاقه یاره ژوند زما په اندېښنو ونه خوري

صالح محمد اسحاق

## ۲۲ حمد شریف

زه څوک یم ته څوک یې دا فرق ته پیدا کړې
زه عدم ته هستي ترې ځان بیا یکتا کړې

خیجل یم یاربه پوهیږې چې هیڅ یم
زما ارزښتونه ښه په دود ادا کړې

ټول ستا ثنا خوان دي که ځمکه اسمان دی
چې ته مشرف محبت به دچا کړې

نو ستا حد به بیاهم معلوم چاته نشي
چې خپل عادتونه دي ټوله سپوا کړې

اسحاق چې ویده وي ساده کلیوال دی
چې کله تا ستا یې نو ته یې ملا کړې

صالح محمد اسحاق

## غزل ۲۳

سپک خلک تلل کیږي ده درنو په ترازو کي
تمثیل مي کوی لاړم دړندو په ترازو کي

موکه دغداري که دخپلوانو په وس وشي
انصاف بخیل ویده شي دهغو په ترازو کي

یاران دمساوي وزن گمان را باندي نه کړي
چي ناست به یم په تمه لا درځو په ترازو کي

دروند کاښی یمه ځکه شم له ډیرو څخه پاتي
تللی مي خپل ځان دسل شپیتو په ترازو کي

پر دي دنیا اسحاقه ښکته تله مي ده خوښه
په بله دنیا خوښ دپورته تلو په ترازو کي

صالح محمد اسحاق

## ۲٤ نعت شریف

سلام و درود نجات آزادي يې
محبوب دمعبود دکوثر ثاقي يې
صل الله صل الله صلِّ عيله وآلهِ
أرسلناکَ جمالَ الله صلِّ عليه وآلهِ

ستاسو په چوپتياکي ده رازونو اثر دی
ستاسو ونرمې ته شر مې دلی هر شر دی
يقين تصلي په تا صلِّ عليه وآلهِ

ادا دي بلاغت ده نظر دي اصيل دی
محبت دي فتحه کړي جمال دي قتيل دی
هر نفس ته يې فنا صلِّ عليه وآلهِ

دالفاظو تاج يې ته داحساس سلطان يې
سکوت دي سکوت ندی وجود يې بيان يې
محبت دي کرم آدا صلِّ عليه وآلهِ

اسحاقه په شور کي هم دامن ظهور دی
سترګو ته عبادت دی زړونو ته منظور دی
ډېر لرمه ستا اړتيا صلِّ عليه وآلهِ

صالح محمد اسحاق

## ۲۵ حمد شریف

عظمتي خالقه ستره بې پرتله
بې قیاسه بې اندازه بې اجله

ستا تمثیل کولای نشي قدرتونه
دقدرت حد دې ټاکلې ځانته خپله

کهکشان سیارې ستورې ټوله لرې
بنبایستونه یې پر ځمکه لګیدله

دمړه شوو ستورو نور راته راوینې
ده توبه توبه توبه تاته هر کله

چې دې څومره حد اسحاقه درلودلو
خدای دې ډکه له الهام کړې هغه تله

صالح محمد اسحاق

## ۲٦ مناجات

زه ستا له نور راتوکیدم له هېرېدو نه مخکي
ستا په تقدیر کي وم پیدا پیداکېدو نه مخکي

زه دي بنده یمه بندي یم خو ازاد مي مه کړه
زه فنا نشم ته مي ساته له لوېدو نه مخکي

نه چي قفس کي دشیطان نفس بندي نشمه
چي دي له یاد سره وبار شم بارېدو نه مخکي

ستا دقدرت نښې ښکارېږي په ذره ذره کي
نه پرې پوه نشم خو خراب شم د لېدو نه مخکي

زه چي دعلم غرور واخلم ته مي مات کړه ربه
اسحاقه مشه پوه په ځان له پوهېدو نه مخکي

صالح محمد اسحاق

## ۲۷ حمد شریف

ته یې خالق دزمان ته یې مالک د مکان
نه په توهم کې راشې نه شې ته درک دبیان

تاته تسلیم فرشتې ته یې قاضي دمېزان
لرې یې ته له هر قېد له قیاسه له ګمان

نه دتقدیر په بند کې نه دمرګ له امتحان
ستا حقیقت نه ښکاري نه شي ترسیم نه عیان

ته یې باقي نور فاني هر بشر کهفِ کهفان
ستا له نوره ده رڼا هر فلک هر کهکشان

زه اسحاق ډک له خطا له ګنا یم نا امان
تاته امید او سلام ته ښښونکې مهربان

صالح محمد اسحاق